د افغانستان اسلامي امارت
د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت
مالي او اداري معينيت
د اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست
د اطلاعاتو آمريت

هفته نامه راستنېدنه عودت

۹۲ يمه گڼه، ۱۴۰۴ سلواغه:لومړی مخ/ شماره ۹۲ دلوه ۱۴۰۴:صفحه اول

د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزير محترم مولوي عبدالکبير په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د کډوالۍ د عالي کمېشنرۍ له استازي عرفات جمال سره وکتل

په دې ناسته کې چې راستنو شويو افغانانو ته د اړينو، مرستو رسولو او په کاري ساحه کې د خنډونو لرې کولو په اړه خبرې وشوې، په پيل کې ښاغلي عرفات جمال د کډوالو چارو وزارت له همکاريو څخه په مننې وويل، چې کونړ ته د ورستنو شويو د اړتيا وړ سلګونه خيمې چمتو شوې دي او ژر به سيمې ته ولېږل شي.

ښاغلي عرفات جمال په نړۍوالې کچه د بشري مرستو کمښت ته په اشارې سره وويل، چې هڅه کوي د افغان راستنو شويو د لاس نيوي لپاره اړينې مرستې راجلب او بديلې لارې ولټوي.

همدارنګه د ملګرو ملتونو د کډوالۍ د عالي کمېشنرۍ استازي يادونه وکړه، چې ځينې راستانه شوي افغانان مدني اسناد نه لري او د اړينو اسنادو په وېش کې يې د ملګرو ملتونو پر همکارۍ تينګار وکړ.

دغه راز ښاغلي عرفات جمال د ځينو مهمو موضوع ګانو په اړه خپل وړانديزونه له محترم وزير سره شريک کړل.

محترم مولوي عبدالکبير د ملګرو ملتونو د کډوالۍ د عالي کمېشنرۍ استازي ته ښه راغلاست وويل او د کډوالو په برخه کې يې د ملګرو ملتونو له مرستو او همکاريو مننه وکړه.

محترم وزير زياته کړه، چې د ژمي په راتګ سره د اسلامي امارت لخوا راستنو شويو ته پر خوراکي توکو سربېره د نغدي مرستو لړۍ پيل شوې او يادونه يې وکړه، چې نړۍوال بايد بشري مرستې پر سياسي مسايلو پورې ونه تړي.

محترم مولوي عبدالکبير د کډوالو په برخه کې د ملګرو ملتونو ادارو ته د هر ډول همکاريو د دوام ډاډ ورکړ او شريکو شويو وړانديزونو ته يې د رسېدنې يادونه وکړه.



ورکشاپ سيستم آنلاين ترتيب پلان و گزارش دهی در وزارت امور مهاجرين برگزارشد

ورکشاپ يکروزه سيستم آنلاين ترتيب پلان و گزارش دهی برای رييسان مرکزی، آمرين و مديران بخش پلان و گزارش دهی از طرف رياست پاليسی و پلان وزارت امور مهاجرين و عودت کنندە گان، در تالار کنفرانس های اين وزارت برگزارشد.

نخست عبدالمحفوظ عظيمی آمر تکنالوژی معلوماتی سيستم ياد شده را به معرفی گرفته افزود: اين سيستم در آينده در ۳۴ ولايت کشور برای واحد های دومی فعال خواهد شد که گزارشات طور دقيق و به اسرع وقت ارسال شده مسوولان ميتوانند آن را به وقت و زمان معين ارايه دهند.

سپس، محترم الحاج مولوی عبدالرحمن راشد معين مسلکی وزارت در رابطه اهميت موضوع پرداخته گفت: با پيشرفت تکنالوژی امروزه کارها نسبت به قبل آسان ترشده و از معطلی کار جلوگيری به عمل آمده است.

محترم راشد افتتاح سيستم متذکره را در اداره موثر تلقی نموده بيان کرد: مسوولیت ما خدمت به مردم است در آينده با کار در چنين سيستم مشکلات در واحد های دومی اين وزارت نيز حل خواهد شد، کوشش شود تا استفاده اعظمی ازآن صورت گيرد.

در ادامه، ترتيب پلان، گزارش دهی، اهميت و فوايد آن طور معياری، از سوی آمرين ديتابيس و پلان با ارايه پرزنتيشن تشريح شد.

سه تفاهم نامه در وزارت امور مهاجرين به امضا رسيد

به ارزش ۵۸۷ هزار و ۴۰۱ دالر امريکايی و۳ميليون و۹۷هزارو۱۰۱افغانی سه تفاهم نامه همکاری ميان موسسات هاجر، تيری ديس هومز ، خدمات اجتماعی زنان افغانستان و وزارت امور مهاجرين و عودت کننده گان به امضا رسيد.

به اساس تفاهم نامه های عقد شده، مبلغ فوق در بخش ايجاد کار، مراکز حفاظتی، آگاهی دهی و توزيع کمک نقدی برای ۳۲۲۴۸۹ تن و۱۲۰۰۰خانواده برگشت کننده، بيجاشده و جامعه ميزبان در ولايات کابل ، بلخ وهرات به مصرف خواهد رسيد.

په زابل کې د مهاجرينو دويم ښارګوټی پرانيستل شو

په زابل کې د شيخ متي بابا مهاجرينو ښارګوټی، د يو لړ مراسمو په ترڅ کې د سمه ييزو چارواکو په شتون کې پرانيستل شو.

د ياد ولايت د والي دفتر رييس قدرت الله بدري وويل: دغه ښارګوټي نيږدې ۴ زره او ۳۳۰ جريبه پراخوالی لري او ۵ زره نومړي د راستنو شويو لپاره په پام کې نيول شوي دي، چې روغتيايي مرکزونه، جومانونه، ښوونځي، مدرسې، درالعلوم، تفريحي پارکونه، لوبغالي، سوداګريز مرکزونه او نورې اسانتياوې پکې شاملې دي، چې له طرزالعمل سره سم به هر راستون شوي ته يوه نومره ځمکه، چې ۵ بسوې کېږي، ورکړل شي.

د زابل د مهاجرينو چارو رييس مولوي عبدالعلي جهادیار وويل: هڅه کوو،

چې د مهاجرینو ستونزو ته پر وخت رسېدنه وکړو.

نومورې په زابل کې دغه ښارګوټی د مهاجرینو د ژوند ښه والي او د ټولنیز ثبات په برخه کې مهم وبلل.

وروسته د کرنې او ښارجوړونې ریسسانو د ښارګوټي پر ارزښت خبرې وکړې او ډاډ یې څرګند کړ، چې اړوندې اداري به مهاجرینو ته لازمې اسانتیاوې برابرې کړي او د ښارګوټي پراختیا به په مطلوب ډول تر سره شي.

په پای کې یو شمېر مهاجرینو ته د ځمکې سندونه ورکړل شول.

د ښارګوټو جوړول د راستنو شویو لپاره د ښه ژوند برابرولو او د هغوی ټولنیزو او اقتصادي ستونزو ته د اسلامي امارت جدي پاملرنه څرګندوي .

فراه او هلمند کې تر ۲ زرو زیاتو کورنیو ته د غنمو او نغدي مرستو وېش لړۍ پیل شوه

د عالیقدر امیرالمومنین حفظه الله د فرمان پر بنسټ، تېره ورځ د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزیر، والیانو او سیمه‌ییزو مسوولینو له لوري په فراه او هلمند ولایتونو کې ۲ زره ۴۰۰ راستنو شویو کورنیو ته د غنمو او نغدي مرستو وېش لړۍ پیل شوه.

د یادو ولایتونو د مهاجرینو ریاستونو د راپورونو له مخې، فراه کې یو زر ۲۰۰ راستنو شویو کورنیو او هلمند کې یو زر ۲۰۰ راستنو شویو کورنیو ته ۵ بوجۍ غنم او ۵ زره افغانۍ ورکول کېږي.

مرستو اخیستونکو له یادو مرستو خوښي وښوده، خو له اسلامي امارت او همکارو بنسټونو څخه یې د روغتیا، زده‌کړو، پاکو اوبو او سرپناه په برخو کې د همکارۍ غوښتنه وکړه.

باید وویل شي، چې دغه مرستې د افغانستان اسلامي امارت د ملاتړې برنامې په چوکاټ کې په ښړنیو حالاتو کې راستنېدونکو مهاجرینو ته وېشل کېږي.

بیش از ۱۰۰ تن مهاجر از زندان های کشور پاکستان آزاد و به میهن برگشت نمودند

۱۵۳ تن از افغان های مهاجر محبوس از زندان های کشور پاکستان در هفته روان، رها و پس از آزادی به کشور برگشت نمودند.

به اساس گزارش آمریت انتقالات مهاجرین ریاست امور مهاجرین و عودت کننده گان ولایت قندهار در سپین بولدک افراد یاد شده مدت یک روز الی ۲ ماه را دربند بودند که پس از ثبت در آن آمریت و دریافت مساعدت های بشری به محلات اصلی شان انتقال شدند.

روانه اونۍ په کابل، بلخ، بغلان او بادغیس ولایتونو کې له ۳ زره ۸۰۲ راستنو شویو، بېځایه شویو، زیانمنو کورنیو او کوربه ټولنو سره د نغدي،

روانه اونۍ په کابل، بلخ، بغلان او بادغیس ولایتونو کې له ۳ زره ۸۰۲ راستنو شویو، بېځایه شویو، زیانمنو کورنیو او کوربه ټولنو سره د نغدي، خوراکي او غیرې خوراکي توکو مرسته وشوه.

د ولایتونو د راپورونو له مخې، د کورنیو او نرۍ‌والو بنسټونو له لوري کابل کې له یو زر ۴۷۲ کورنیو سره ۷ قلمه خوارکي توکو، یوې یوې خېمې او ۳ میلیونه ۸۹۵ زره او ۶۹۵ افغانیو نغدي، بلخ کې یو زر ۴۴ کورنیو سره ۷ قلمه خوراکي توکو، د ژمنیو کالیو کڅوړو او ۶۵۷ زره ۷۰۰ افغانیو نغدي، بغلان کې ۸۶ کورنیو سره یو میلیون ۱۴ زره او ۹۰۰ افغانۍ او بادغیس کې یو زر ۲۰۰ کورنیو سره ۵ زره افغانیو نغدي او ۵ بوجیو غنمو مرسته وشوه.

همدارنګه د همکارو بنسټونو له لوري په فراه کې ۵۹ تنو کم عمره ماشومانو سره ۷۸۰ زره ۲۷۵ افغانۍ او بادغیس کې ۵۰ تنو مېرمنو سره د حرفوي زده‌کړو برنامو کې د شمولیت په موخه ۹۰ زره افغانۍ مرسته وشوه.

توزیع گندم و کمک نقدی در ولایت فاریاب آغاز شد

به اساس فرمان عالیقدر امیر المومنین حفظه الله، پروسه توزیع کمک نقدی و گندم برای ۲۲۰۰ خانواده برگشت کننده در ولایت فاریاب توسط محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزراء و محترم مولوی عطاالله عمری توسط وزیر زراعت آبیاری و مالداری و مقامات محلی ولایت مذکور، به تاریخ ۱۵ دلو، آغازشد.

در این پروسه برای هر خانواده مهاجر پنج هزار افغانی پول نقد و پنج بوجی گندم از طرف امارت اسلامی ظرف چند روز توزیع میگردد. امارت اسلامی در استقبال از مهاجرین برگشت کننده و ایجاد سهولت های بیشتر برای آنان مداوم متعهد باقی خواهد ماند.

بیش از ۲ هزار خانواده در ولایت بغلان کمک غذایی و نقدی دریافت مینما یند

به اساس فرمان عالیقدر امیر المومنین حفظه الله، توزیع مواد غذایی و کمک نقدی برای ۲۲۰۰ خانواده برگشت کننده در ولایت بغلان با حضور مولوی عطاء الله عمری وزیر زراعت، آبیاری و مالداری و مقامات محلی آن ولایت به تاریخ ۳۰ جدی، آغازشد.

کمک مذکور شامل ۱۱ هزار بوجی گندم و مبلغ ۱۱ میلیون افغانی است که برای هر خانواده ۵ بوجی گندم و مبلغ ۵ هزار افغانی با همکاری وزارت زراعت، آبیاری و مالداری ظرف چند روز آینده توزیع میشود.

قابل ذکر است که لیست عودت کنندگان مطابق دیتابیس آنلاین وزارت امور مهاجرین و به تناسب سطح عودت هر ولسوالی ترتیب گردیده تحت نظر هیات موظف ریاست های مهاجرین و زراعت بغلان پروسه توزیع تطبیق میگردد.

د پاکستان له بندخونو تر ۱۰۰ زیات افغان کډوال ازاد او هېواد ته راستانه شول

روانه اونۍ د پاکستان له بندخونو ۱۲۳ افغان کډوال ازاد او هېواد ته راستانه شول.

د کندهار د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو ریاست د سپین بولدک د لېږد امریت د راپور له مخې، یاد کسان له یوې ورځې تر ۲ میاشتو پورې بندیان وو، چې په دغه امریت کې تر ثبت او مرستو له تر لاسه کولو وروسته خپلو سیمو ته ولېږدول شول.

هزاران خانواده در ۷ ولایت کمک شد

برای ۵۶۶۷ خانواده بیجاشده، برگشت کننده، آسیب پذیر و جامعه میزبان در ولایات کابل، غزنی، ننگرهار بادغیس، میدان وردک، فاریاب و سرپل، کمک های نقدی، خوراکی و غیر خوراکی در هفته روان توزیع شد.

طبق گزارشات از ولایات، برای ۵۲۷ خانواده در کابل مبلغ ۵ میلیون ۲۸۸ هزار و ۲۴۰ افغانی، برای ۱۹۶ خانواده در غزنی مبلغ دو میلیون ۵۸۷ هزار افغانی، برای ۶۹۴ خانواده در ننگرهار مبلغ ۶ میلیون ۶۰۹ هزار و ۳۷۰ افغانی، برای ۱۰۰۰ خانواده در بادغیس ۱۳ قلم مواد خوراکی و غیر خوراکی، برای ۲۵۰ خانواده در میدان وردک مبلغ ۸ هزار و ۵۵۰ دالر امریکایی، ۹۱۸ هزار و ۳۷۵ افغانی و فلتر های تصفیه آب و برای ۳۰۰۰ خانواده در ولایات سرپل و فاریاب ۵ قلم مواد خوراکی کمک نهاد های همکار بود که پس از شناسایی برای آنان توزیع شد.

همچنان، برای ۳۰ تن از خانم ها در بادغیس ۲۴ قلم وسایل خیاطی، متذکره آن را پس از شناسایی بدست نیز کمک نهاد همکار بود که افراد آوردند.

د کډوالو او راستنېدونکو چارو سرپرست وزیر محترم مولوي عبدالکبیر د پاکستان په کویټه ښار کې له افغان کونسل مولوي گل حسن سره وکتل

په دې ناسته کې مولوي گل حسن د پاکستان په بلوچستان ایالات کې د افغان کډوالو د وضعیت په هکله وروستی معلومات له محترم مولوي عبدالکبیر سره شریک کړل او زیاته یې کړه، چې په بلوچستان کې له افغان کډوالو سره د پاکستان د نورو ایالتونو په پرتله د ناسم چلند پېښې کمې دي او په کویټه کې افغان استازولی هڅې کړې چې پر وخت د افغان مهاجرینو ستونزې د حل په موخه له پاکستاني لوري سره شریکې کړي.

په دې ناسته کې د پاکستان په بلوچستان کې د افغان مهاجرینو د ستونزو د حل، د اړونده ادارو ترمنځ د همغږۍ په زیاتوالي او نورو اړونده موضوعاتو بحثونه وشول.

د کډوالو او راستنېدونکیو چارو سرپرست وزیر محترم مولوي عبدالکبیر، په پاکستان کې د افغان کډوالو د ستونزو د حل په برخه کې د افغان د سفارت او کونسلګریو د مسوولینو هڅې وستایلې او یادونه یې وکړه، چې له هرې ممکنې لارې دې د مهاجرینو ستونزو د حل لپاره اقدام وشي. هغه وویل، چې په هېواد کې د راستنېدونکیو افغانانو لپاره لازم چمتوالی نیول شوی؛ خو ټینګار یې وکړ چې له کډوالو سره د کوربه هېوادونو له لوري زور زیاتی د منلو وړ نه دی.

د کډوالو او راستنېدونکو چارو سرپرست وزیر محترم مولوي عبدالکبیر په جلاجلا ناستو کې د نورستان له والي محترم قاري زین العابدین عابد او د خوست د پوهنې له رئیس مولوي فیض الله جمال سره وکتل

په پیل کې د نورستان والي ښاغلي زین العابدین عابد په یاد ولایت کې د کډوالو د وضعیت او د هغوی د وړاندیزونو په اړه محترم مولوي عبدالکبیر ته معلومات ورکړل او زیاته یې کړه، چې په دغه ولایت کې مهاجرینو ته د اسانتیاوو چمتو کولو په موخه له اړوندو حکومتي او مرستندویه اداره سره همغږي رامنځته شوې ده.

ښاغلي عابد، د نورستان د ولسونو د ستونزو د حل په برخه کې د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو د وزیر د هڅو په یادولو سره وویل، چې علمای کرام او ولسونه د اسلامي امارت لخوا د هغوی د ستونزو د حل له املې خوښ دي.

دغه راز مولوي فیض الله جمال په خوست ولایت کې مهاجرینو ته د زده کړو د چمتو کولو پر څرنګوالي خبرې وکړې او په وینا یې، چې د کډوالو لپاره په ښوونځیو او مدارسو کې د زده کړو زمینه برابره شوې ده. هغه وویل، له نړیوالو ادارو سره په اړیکه کې دي څو کډوالو ته د زده کړو په برخه کې لازمې اسانتیاوې رامنځته کړي.

د کډوالو او راستنېدونکیو چارو سرپرست وزیر محترم مولوي عبدالکبیر، اسلامي نظام او ولس ته د خدمت په برخه کې د امارتي چارواکو او مسوولینو د هڅو په ستایلو سره وویل، چې افغانانو د څو لسیزو جګړو او یرغلونو له املې ګڼې ناخوالې لیدلې دي او اسلامي امارت د ولس د هوسا ژوند لپاره هڅې کوي.

د محترم وزیر په وینا، چې افغان کډوالو ته اسانتیاوې چمتو کول د اسلامي امارت لومړیتوب دی او د مهاجرینو پر وړاندیزونو او غوښتنو به غور وشي.

یک تفاهم نامه همکاری در وزارت امور مهاجرین به امضا رسید

یک تفاهم نامه های همکاری به ارزش ۳۱ هزار و ۹۴۳ دالر امریکایی با موسسه بین المللی شلتر ناو در وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان به امضا رسید.

به اساس تفاهم نامه یاد شده موسسه مذکور مبلغ یاد شده را در بخش توزیع مواد خوراکی برای ۶۵۵ خانواده بیجاشده در ولایت کابل به مصرف میرساند.

په غزني ولایت کې راستنېدونکو کډوالو لپاره د ۲ نمبر ښارګوټي پرانیسته وشوه

دغزني ولایت مرکز کې د راستنېدونکو کډوالو لپاره د ۲ نمبر ښارګوټي پرانیسته د لوړپوړو چارواکو په ګډون وشوه، چې پکې شاوخوا ۶ رزه جریبه ځمکه د کډوالو لپاره ځانګړې شوې او د استوګنې لپاره به په په رون ډول ووېشل شي.

په دې مراسمو کې د افغانستان اسلامي امارت د رئیس‌الوزرا اداري مرستیال مولوي عبدالسلام حنفي، د کور او ښار جوړولو وزیر مولوي حمدالله نعماني، د غزني والي ملا عبدالصمد جاوید او یو شمېر نورو چارواکو، قومي مشرانو او ځوانانو ګډون درلود.

په یادهو مراسمو کې مولوي عبدالسلام حنفي زیاته کړه: د ۶ زره جریبو ځمکې د وېش لړۍ به پیل او په شفاف ډول به کډوالو ته ووېشل شي.

د غزني امنیه قوماندان مولوي مخدوم محمدعالم وویل: دا د خوشالۍ ځای دی، چې هېواد مو خپلواک او امن دی او د کډوالو ستونزو ته به رسېدنه وشي. د کور او ښار جوړولو وزیر مولوي حمدالله نعماني وویل، هرې کورنۍ ته د غړو د شمېر له مخې ۵ تر ۱۵ بیسوې ځمکه ورکول کېږي.

د غزني د کډوالو چارو رئیس مولوي مطیع الله عرب وایي، تر اوسه ۲ زره او ۵۰۰ کورنۍ ثبت شوې او لومړنۍ اړتیاوې یې پوره شوې دي.

والی ولایت بادغیس، با رییس مهاجرین ولایت بلخ، دیدار کرد

حافظ محمد امین جان عمری، والی ولایت بادغیس با مولوی اسدالله وفا، رییس مهاجرین ولایت بلخ، دیدار کرد.

در این دیدار که مولوی اختر محمد مزمل معاون والی ولایت لغمان و شیخ محمد اعزام رییس شورای علمای ولایت بلخ نیز حضور داشتند در زمینه کمک رسانی به مهاجرین و رسیدگی به مشکلات آنان صحبت نمودند و متعهد به ارایه انواع کمک ها شدند .

په جوزجان او کابل ولایاتو کې سلګونو کسانو د کار وسایل ترلاسه کړل

په جوزجان او کابل ولایاتو کې ۵۸۰ راستنېدونکو کسانو او دسیمې اړمنو خلکو ته د کار وسایل ووېشل شول.

یاد شوي کسان له دې وړاندې په فیض آباد، خانقاه او شبرغان ښار اوقره باغ ولسوالیو کې سروې او پېژندل شوي وو، چې د وزارت د همکارو بنسټونو له لوري د کار وسایل (بیل، کلنګ، واسکټ، دستکش او خولۍ) یې ترلاسه کړل.

دا مرستې د درېیو میاشتو لپاره د پیسو په بدل کې د کار په نوم ورکړل شوې دي او د دې پروژې موخه راستنېدونکو او محلي خلکو ته د کار زمینه برابرول دي. د میاشتې په پای کې به هر کس ته ۵ زره او ۹۰۰ افغانۍ هم ورکول کېږي.

به ارزش بیش از ۷ میلیون دالر، هزار باب خانه، در ولایت پکتیکا ساخته شد

یک هزار باب خانه در ولایت پکتیکا، به ارزش حدود ۷.۸ میلیون دالر امریکایی بعد از ساخت آن در ولسوالی گیان، به متضررین ناشی از حوادث طبیعی (زلزله) در آن ولایت تسلیم داده شد.

در محفلی که به همین مناسبت در آن ولایت برگزارشده بود مولوی حمد الله فاتح، رییس مهاجرین آن ولایت گفت: این خانه ها برای آسیب دیده گان زلزله در این ولایت توسط کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهنده گان ساخته شده است که ساخت هر خانه حدود ۵ هزارو ۸۰۰ دالر امریکایی هزینه داشته و درمدت ۲ سال کار ساخت آن تکمیل شده و بر علاوه آن ساخت یک باب مکتب، شفاخانه، در این ولسوالی در حال پیشرفت است.

عرفات جمال رییس کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهنده گان گفت: این سازمان مدت چهل سال است که در افغانستان فعالیت می کند و این کاررا برای افغان های بی خانمان ادامه خواهد داد.

مراسم یاد شده با تحویل کلید منازل به چند نفر و دعایه به پایان رسید.**تورخم کې د افغانستان او**